# الحاقة

**مکی سورة دی ۴۴ آیتونه لری**

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

ٱلۡحَآقَّةُ (١)

**( د قیامت)هغه ثابته او مسلمه واقعه( چې کافران یې راتګ نه منی هرو مرو پيښيدونکې ده او هيڅوک يې مخه نشی نیولی).**

مَا ٱلۡحَآقَّةُ (٢)

**څه ده هغه ثابته او حقه پيښه( او حال او کیفیت یې څه دی)؟**

وَمَآ أَدۡرَىٰكَ مَا ٱلۡحَآقَّةُ (٣)

**او ته د دغې ثابتې او مسلمې پيښې ( له حقیقت او کیفیت نه) څه خبر يې( ځکه علم يې له الله تعالی نه غير له هیچا سره نشته).**

كَذَّبَتۡ ثَمُودُ وَعَادُۢ بِٱلۡقَارِعَةِ (٤)

**ثموديانو او عاديانو د هغې ټکوونکې ورځې راتګ دروا‌غ وګاڼه( چې ټول کائنات به سره ټوټه ټوټه او وټکول شی).**

فَأَمَّا ثَمُودُ فَأُهۡلِكُواْ بِٱلطَّاغِيَةِ (٥)

**نو ثموديان په يوه تندريزه کړيکه تباه شول.**

وَأَمَّا عَادٞ فَأُهۡلِكُواْ بِرِيحٖ صَرۡصَرٍ عَاتِيَةٖ (٦)

**خو عاديان يوې يخې سرکشې سيلۍ له منځه يوړل.**

سَخَّرَهَا عَلَيۡهِمۡ سَبۡعَ لَيَالٖ وَثَمَٰنِيَةَ أَيَّامٍ حُسُومٗا فَتَرَى ٱلۡقَوۡمَ فِيهَا
صَرۡعَىٰ كَأَنَّهُمۡ أَعۡجَازُ نَخۡلٍ خَاوِيَةٖ (٧)

**چې اوه شپې او اته ورځې پرله پسې روانه وه او( که ته هلته وی) ليدلی به دې وو چې ټول د خرماو د ورستو او ډډو تنو په څير مړه پراته وو.**

فَهَلۡ تَرَىٰ لَهُم مِّنۢ بَاقِيَةٖ ٨

آیا اوس له هغوی نه کوم یو تن پاتې شوی وینې؟

وَجَآءَ فِرۡعَوۡنُ وَمَن قَبۡلَهُۥ وَٱلۡمُؤۡتَفِكَٰتُ بِٱلۡخَاطِئَةِ ٩

فرعون او له هغه نه وړاندنی خلک او د( لوط د قوم) د راچپه کړی شویو ښارونو اوسیدونکی د (لویو لویو) ګناهونو مرتکب شول.

فَعَصَوۡاْ رَسُولَ رَبِّهِمۡ فَأَخَذَهُمۡ أَخۡذَةٗ رَّابِيَةً ١٠

هغوی( هر یو) د خپل رب د رسول نافرمانی وکړه، او له همدې امله سخت عذاب راونیول.

إِنَّا لَمَّا طَغَا ٱلۡمَآءُ حَمَلۡنَٰكُمۡ فِي ٱلۡجَارِيَةِ ١١

(کله چې د نوح علیه السلام په زمانه کې) اوبه توفانی شوی (او د هیڅ انسان د ژغورلو تصور نه کیده، مونږ په خپل کامل قدرت او مرحمت ) تاسو( ستاسو پلرونه نیکونه د نوح) په کښتۍ کې سپاره( او وژغورلۍ).

لِنَجۡعَلَهَا لَكُمۡ تَذۡكِرَةٗ وَتَعِيَهَآ أُذُنٞ وَٰعِيَةٞ ١٢

او دغه( پیښه مو د خپل قدرت او حکمت) د نښې په توګه پریښوده چې د هر سړی په یاد کې باید پاتې شی( حقیقت اوریدونکی) غوږونه یې واوری( او په دې وپوهیږی چې په زیاترو دنیوی پیښو کې فرمان منونکی او باغیان ډیر ښه تشخیص او تفکیک کیږی).

فَإِذَا نُفِخَ فِي ٱلصُّورِ نَفۡخَةٞ وَٰحِدَةٞ ١٣

نو کله چې د صور شپیلۍ ووهل شی.

وَحُمِلَتِ ٱلۡأَرۡضُ وَٱلۡجِبَالُ فَدُكَّتَا دَكَّةٗ وَٰحِدَةٗ ١٤

او ځمکه او غرونه له خپلو ځایو راپورته او په یو ځل ټوټه ټوټه او ذرې ذرې شی.

فَيَوۡمَئِذٖ وَقَعَتِ ٱلۡوَاقِعَةُ ١٥

نو همدا د لویې پیښې( قیامت) ورځ ده.

وَٱنشَقَّتِ ٱلسَّمَآءُ فَهِيَ يَوۡمَئِذٖ وَاهِيَةٞ ١٦

او( دغه ټینګ او مستحکم) آسمان به وچوی او ټوټه ټوټه به شی.

وَٱلۡمَلَكُ عَلَىٰٓ أَرۡجَآئِهَاۚ وَيَحۡمِلُ عَرۡشَ رَبِّكَ فَوۡقَهُمۡ يَوۡمَئِذٖ ثَمَٰنِيَةٞ ١٧

**او پربښتې به( د الهی فرمانونو د تطبیق لپاره) د آسمان په څنډو ودرېږی او اته پربښتې به په دغه ورځ ستا د رب عرش پورته کړی( چې څرنګوالی او کیفیت یې یوازې الله تعالی ته معلوم دی).**

يَوْمَئِذٍ تُعْرَضُونَ لَا تَخْفَىٰ مِنكُمْ خَافِيَةٌ ﴿١٨﴾

**په دغه ورځ به تاسو (ټول د خپل رب په حضور کې ودرېږئ) په داسې حال کې چې (هیڅ نیت او عمل) به مو پټ پاتې نه وی.**

فَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ بِيَمِينِهِۦ فَيَقُولُ هَآؤُمُ ٱقْرَءُوا۟ كِتَٰبِيَهْ ﴿١٩﴾

**نو چاته چې برخه لیک یې په ښیٔ لاس ورکړی شی، په خوښیٔ او خوشالیٔ به (خلکو ته)ووایی: ای راشئ زما عملنامه ولولئ.**

إِنِّى ظَنَنتُ أَنِّى مُلَٰقٍ حِسَابِيَهْ ﴿٢٠﴾

**زما پوره باور و چې د کړو وړو حساب به مې راسره کیږی( او ځکه خو مې ځان له کفر او شرک نه ساتلی او خپل ټول اعمال مې د الهی احکامو په رڼا کې اصلاح کړی وو).**

فَهُوَ فِى عِيشَةٍ رَّاضِيَةٍ ﴿٢١﴾

**نو دی به په نیکمرغئ او هوسایئ کې وی.**

فِى جَنَّةٍ عَالِيَةٍ ﴿٢٢﴾

**په لوړ او عالیشان جنت کې.**

قُطُوفُهَا دَانِيَةٌ ﴿٢٣﴾

**چې میوې به یې ورته ډیرې نږدې وی.**

كُلُوا۟ وَٱشْرَبُوا۟ هَنِيٓـًٔۢا بِمَآ أَسْلَفْتُمْ فِى ٱلْأَيَّامِ ٱلْخَالِيَةِ ﴿٢٤﴾

**( ورته به اعلان کیږی) په خوند او مزه یې وخورئ او وڅښئ، دا مو د خپلو تیرو نیکو اعمالو ثمره ده.**

وَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَٰبَهُۥ بِشِمَالِهِۦ فَيَقُولُ يَٰلَيْتَنِى لَمْ أُوتَ كِتَٰبِيَهْ ﴿٢٥﴾

**خو څوک چې برخه لیک یې په کین لاس ورکړی شی، نو( له زیات غمه به) وایی: ای کاش دا برخه لیک خو هیڅکله نه وی راکړی شوی.**

وَلَمْ أَدْرِ مَا حِسَابِيَهْ ﴿٢٦﴾

**او زه نه پوهیدم چې حساب کتاب به راسره کیږی.**

يَٰلَيۡتَهَا كَانَتِ ٱلۡقَاضِيَةَ ﴿٢٧﴾

ای کاش له هماغه( لومړی) مرګه نه وی راپورته شوی.

مَآ أَغۡنَىٰ عَنِّي مَالِيَهۡۜ ﴿٢٨﴾

مال او شتمنی مې( اوس) په درد نه خوری.

هَلَكَ عَنِّي سُلۡطَٰنِيَهۡ ﴿٢٩﴾

قدرت او واکمنی مې هم له لاسه لاړل.

خُذُوهُ فَغُلُّوهُ ﴿٣٠﴾

( امر به وشی) ویې نیسئ او طوق ورپه غاړه کړئ.

ثُمَّ ٱلۡجَحِيمَ صَلُّوهُ ﴿٣١﴾

او دوزخ ته یې وغورځوئ.

ثُمَّ فِي سِلۡسِلَةٖ ذَرۡعُهَا سَبۡعُونَ ذِرَاعٗا فَٱسۡلُكُوهُ ﴿٣٢﴾

بیا یې په اویا ګزه اوږد ځنځیر وتړئ.

إِنَّهُۥ كَانَ لَا يُؤۡمِنُ بِٱللَّهِ ٱلۡعَظِيمِ ﴿٣٣﴾

دا هماغه دی چې په عظمت لرونکی ذات الله تعالی یې ایمان نه درلود.

وَلَا يَحُضُّ عَلَىٰ طَعَامِ ٱلۡمِسۡكِينِ ﴿٣٤﴾

او نه به یې( خلکو ته) د بې وزلو او مسکینانو د لاس نیوی او مرستې توصیه کوله.

فَلَيۡسَ لَهُ ٱلۡيَوۡمَ هَٰهُنَا حَمِيمٞ ﴿٣٥﴾

ځکه خو نن دلته د هغه لپاره کوم دوست او مرستندوی نشته.

وَلَا طَعَامٌ إِلَّا مِنۡ غِسۡلِينٖ ﴿٣٦﴾

او خوراک به یې هم( د دوزخیانو) وینې او زوې وی.

لَّا يَأۡكُلُهُۥٓ إِلَّا ٱلۡخَٰطِـُٔونَ ﴿٣٧﴾

چې یوازې د مجرمینو او ګناهکارانو لپاره ځانګړی دی.

فَلَآ أُقۡسِمُ بِمَا تُبۡصِرُونَ ﴿٣٨﴾

نو قسم دی( په محسوساتو) چې تاسو يې وينئ.

وَمَا لَا تُبۡصِرُونَ ﴿٣٩﴾

او په(غير محسوساتو) چې تاسو يې نه وينئ.

إِنَّهُۥ لَقَوۡلُ رَسُولٖ كَرِيمٖ ﴿٤٠﴾

چې بې له شکه دا( قرآن) د يوه عزتمن استازي( محمد صلی الله عليه وسلم ) وينا ده.

وَمَا هُوَ بِقَوۡلِ شَاعِرٖۚ قَلِيلٗا مَّا تُؤۡمِنُونَ ﴿٤١﴾

نه د کوم شاعر د خولې وينا. خو ډير کم خلک ايمان راوړونکی دی.

وَلَا بِقَوۡلِ كَاهِنٖۚ قَلِيلٗا مَّا تَذَكَّرُونَ ﴿٤٢﴾

او نه د کوم کاهن وينا ده. نو لږ غور خو وکړئ.

تَنزِيلٞ مِّن رَّبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿٤٣﴾

او د رب العالمين له لوری نازل شوی (کلام) دی.

وَلَوۡ تَقَوَّلَ عَلَيۡنَا بَعۡضَ ٱلۡأَقَاوِيلِ ﴿٤٤﴾

او که (پيغمبر په دې قرآن کې) کومه خبره په ناحقه مونږ ته منسوب کړی وی.

لَأَخَذۡنَا مِنۡهُ بِٱلۡيَمِينِ ﴿٤٥﴾

نو مونږ به په سختی سره رانيولی وی.

ثُمَّ لَقَطَعۡنَا مِنۡهُ ٱلۡوَتِينَ ﴿٤٦﴾

بيا به مو د هغه شارګ پرې کړی وی.

فَمَا مِنكُم مِّنۡ أَحَدٍ عَنۡهُ حَٰجِزِينَ ﴿٤٧﴾

او په تاسو کې به هيچا، هغه زمونږ نه ژغورلی نه وی.

وَإِنَّهُۥ لَتَذۡكِرَةٞ لِّلۡمُتَّقِينَ ﴿٤٨﴾

**بې له شکه دا قرآن د پرهیزګارانو لپاره د پند او نصیحت سرچینه ده.**

وَإِنَّا لَنَعْلَمُ أَنَّ مِنكُم مُّكَذِّبِينَ ﴿٤٩﴾

**او مونږ ډیر ښه پوهیږو چې په تاسو کې انکار کوونکی هم شته.**

وَإِنَّهُۥ لَحَسْرَةٌ عَلَى ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٥٠﴾

**چه د انکار نتیجه به یې پخپله د کافرانو پښیمانی وی.**

وَإِنَّهُۥ لَحَقُّ ٱلْيَقِينِ ﴿٥١﴾

**او بې له شکه دا( قرآن) یو کاملاً مسلم حقیقت دی.**

فَسَبِّحْ بِٱسْمِ رَبِّكَ ٱلْعَظِيمِ ﴿٥٢﴾

**نو د خپل عظیم رب نوم په ثنا او تسبیح سره ستایه.**

**« تمت سورة الحاقة بفضل الله و رحمته»**

**======================**